په تاسو کې غوره زما پیړۍ ده، بیا ورپسې هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي، بیا هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي

د عمران بن حصين رضي الله عنهما څخه روايت دی، وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په تاسو کې غوره زما پیړۍ ده، بیا ورپسې هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي، بیا هغه کسان چې له هغوی وروسته راځي» عِمران وايي: زه نه پوهېږم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له دوو نسلونو يادونه وکړه، که له دريو، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «بېشکه له تاسو وروسته به داسې قوم راشي چې خيانت به کوي او د باور وړ به نه وي، ګواهي به ورکوي خو د شاهدۍ غوښتنه به ترې نه وي شوې، نذرونه به کوي خو پوره کوي به يې نه، او چاغوالی به پکې ښکاره شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی چې د خلکو له طبقو څخه غوره طبقه هغه ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرام پکې وو، بيا هغه مؤمنان چې صحابه يې ليدلي وي خو رسول الله يې نه وي ليدلی، بيا هغه کسان چې د تابعينو پيروي کوي (اتباع تابعين)، صحابي د څلورمې پیړۍ د خلکو په يادولو کې تردد کړی دی. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له هغوی وروسته به داسې قوم راشي چې خيانت به کوي، خلک به پرې باور نه کوي، شاهدۍ به ورکوي مخکې له دې چې د شاهدۍ غوښتنه ترې وشي، نذرونه به کوي خو وفا به پرې نه کوي او په خوړو او څښاک کې به پراخوالی راولي، تر دې چې چاغوالی به پکې ښکاره شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66370